**بسم الله الرحمن الرحيم**

# د روسيې پر وړاندې د اوکراين د نظامي خوځښتونو تر شا څه دي؟



**پوښتنه:**

امريکايي فاکس نيوز ته د اوکراين ولسمشر پيترو پروشينکو وويل: «د روسي پوله ساتو ځواکونو له لوري د کيرچ په تنګي کې، چې تور سمندرګی له ازو سمندرګي سره نښلوي، د اوکرايني جنګي بېړۍ په تم کولو سره روسيې د ده د هيواد پر وړاندې تېري کوونکې جګړه پيل کړې.» دغې پيښې ته په اشارې سره هغه زياته کړه: «ښاغليه پوتينه! دا کړنه تېری دی. ښاغليه پوتينه! دا جګړه ده. دا ټوکې نه دي، نه هم کومه پېښه ده او نه هم کوم کړکېچ دی.» (Arabic.Sputniknews, 12/12/2018). روسيې اعلان وکړ چې روسي ساحلي ساتونکو د ۲۰۱۸م د نوامبر پر ۲۵مه درې اوکرايني جنګي بېړۍ نيولي او ادعا يې کړې چې دې بېړيو کيرچ تنګي ته څېرمه د کريميا په ختيځ کې، چې دواړه تور او ازو سمندرګي سره نښلوي د روسيې د اوبو پر حريم تېری کړی. د دې تر څنګ اوکراين پر امريکا ږغ کړی چې پر روسيې لا نور سخت بنديزونه ولګوي، خو اروپايي ټولنې دا غوښتنه رد کړه. لا هم د دواړو لوريو تر منځ حالت نازک دی. د دې پېښو تر شا څوک دي؟ ولې هلته کړکېچ يو ځل بيا له سره پيل شوی؟

**ځواب:**

که د الله سبحانه تعالی خوښه وه، نو موږ به هغو پېښو ته چې د دې موضوع اړوند را منځته شوي او اوس هم پېښېږي بيا کتنه وکړو تر څو ځواب ومومو:

۱- د ۲۰۱۴م په فبروري کې روسيې، امريکا او اروپا پر دې هوکړه وکړه چې د اوکراين پخوانی ولسمشر ويکتور يانکوويچ به په واک کې پاتې کېږي، ځکه دی روسيې ته ژمن کس و. که څه هم يو ځل هوکړه شوې وه، خو اړدوړ او بلوا زور واخيست او په وسلوال مقاومت واوښت، چې له امله يې يانکوويچ اړ شو څو روسيې ته وتښتي. بيا په ډاګه شوه چې لوېديځ د دې پېښو تر شا و... روسيې درک کړه چې لوېديځ تېر ايستلي دي او اوکراين يې له لاسه وتلی دی. ځکه يې نو له روسيې سره د کريميا د يو ځای کولو اعلان وکړ او خپل پلويان يې په دونباس او ختيځ اوکراين کې را وپارول چې د دونسک او لوهانسک جمهوريتونو ترعنوان لاندې د خپلو سيمو خپلواکي اعلان کړي. ورپسې امريکا او اروپا پر روسيې بنديزونه ولګول او روسيه يې د جي اووه **G-7** ډلې هيوادونو له ناستو څخه وايسته.

۲- امريکا د اوکراين د مسلح کولو غوښتنه وکړه، خو اروپا و نه منله ځکه اروپا پوهېده چې دغه مسلح کول به له روسيې سره کړکېچ رامنځته کړي او که دا کړکېچ لا تود شي، نو پر اروپا به اغېز هم وکړي...

ځکه نو فرانسې او آلمان له روسیې سره اړیکه ټینګه کړه، ترڅو کړکیچ را کم کړي او یوه سیاسي حل لاره ورته ومومي. دوی د دریو هیوادونو تر منځ د ۲۰۱۵م د فبروري پر ۶مه د منسک تړون لاسلیک کړ او امریکا یې څنډې ته کړه. موږ د ۲۰۱۵ م د فبروري ۲۱ مې نېټې پوښتنې ته په ځواب کې هم دې ته اشاره کړې وه، هلته مو ویلي و: «اروپا (فرانسه او آلمان) وېره لري چې د امریکا په دریځونو کې به دغه تاوده پرمختګونه د اوکراین پر وړاندې د روسیې نظامي خوځښت ته لاره هواره کړي، دا به د اروپا لپاره شرمونکې وي که دوی د اوکراین تر څنګ ونه دریږي، په دې سره به په اروپا کې جګړې ته ورته حالت رامنځته شي، خو پر امریکا به کوم اغېز و نه کړي. همدا لامل دی چې اروپا اړ شوه ترڅو خپله هغه پالیسي واړوي چې پخوا له امریکا سره یو ډول وه او هغه له روسي ولسمشر سره اړیکه ټینګول و، ترڅو یوې سیاسي حل لارې ته ورسیږي او د اروپا او روسیې تر منځ د تودو خوځښتونو مخه ونیسي، دا هغه څه دي چې پېښ شول. اروپایي (فرانسوي او آلماني) رهبرانو پر دې اړه خبرې اترې کړي او په دې اړه د ۲۰۱۵م د فبروري پر ۶مه هوکړې ته ورسېدل. ورپسې میرکل د ۲۰۱۵ م د فبروري پر ۸مه واشنګټن ته ولاړه ترڅو اوباما په دې اړه خبر کړي، نه دا چې اجازه ترې واخلي... او دا څرګنده وه چې دا لمړی ځل و چې اروپا د یوې موضوع واګې په لاس کې اخیستی و، له دې پرته چې له امریکا څخه کوم شین څراغ تر لاسه کړي. د هوکړو د پلي کېدلو پانه د دریو واړو رهبرانو ولادمیر پوتین، انګلا مرکل، او فرانسوي ولسمشر فرانسوا هولاند له لورې تصویب او د ۲۰۱۵م د فبروري پر ۶مه د جمعې په ورځ نهایي شوه او یوازې څه چې پاتې شول هغه د اوکرایني ډلو را بلل و، لکه، د لاسلیک په موخه د ولسمشر او یاغیان. وروسته مرکل واشنګټن ته لاړه، ترڅو اوباما خبر کړي!

۳- دا کړنه د امریکا بلنه نه وه، که څه هم وروسته یې له تړون څخه خپل ملاتړ په ښکاره ډول اعلان کړ، خو نه د دې تړون د پلي کېدلو لپاره، بلکې د یاد تړون د محتویاتو د تشولو او ناکاره کولو لپاره. موږ د ورته پوښتنې په ځواب کې یادونه کړې: «د فرانسې او آلمان دریځ اوباما او د هغه اداره په پراخه توګه تر اغېز لاندې راوستې وه، چې د مونیخ په کنفرانس کې د کېري او میرکل تر منځ د لفظي شخړې لامل شوه، په خاصه توګه د امریکا د هغو بیانیو په اړه چې اوکراین ته یې د وسلو د برابرولو په اړه ورکړې او د اروپا له لوري رد شوې». موږ هلته ویلي و: «لکه څرنګه چې تمه کېږي، د دې شونتیا هم شته چې امریکا به د دې هوکړې د مخ نیوي په لار کې له ننګونو سره مخ شي که څه هم امریکا په اوکراین کې پلویان لري. که څه هم د اوکراین جمهوریت ولسمشر پروشنکو اروپا ته نږدې دی، خو دی همدا راز امریکا ته هم نږدې دی... او کولای شي اوضاع له دریو څخه په یوه شي او یا په ټولو دریو شیانو کړکېچنه کړي:

- د اوکراین لپاره د پرمختللو وسلو برابرول.
- اوکراین سره خبرې اترې کول چې د ناټو په تړون کې شامل شي.
- یا اوکراین ته د خپلو ځینو ځواکونو لېږل.
او دغه چاره د تړون او هوکړې خلاف عمل دی، ځکه چې یاد درې شیان یا کړنې روسیه پاروي او پر پرمختیاوو باندې اغېز کوي او د تړون د ناکامۍ لامل ګرځي». د خبرو پای...
دا هغه څه دي چې پېښېدونکي دي؛ امریکا د تړون د ناکامه کېدو په هڅه کې ده او غواړي چې وضعیت ترینګلی کړي...
۴- وروستۍ پېښې هغه وخت رامنځته شوې، چې روسیې درې اوکراینې بېړۍ د هغوی له پولیسو سره یوځای ونیولې... له دې څخه داسې ښکاري چې اوکراین روسیه وپاروله او دا پارونه د امریکا له شنه څراغ پرته ناشونې ده، د روسیې د تاس(**TASS** ) خبري اژانس د ۲۰۱۸ م د نومبر پر ۲۵ مه راپور ورکړ: «درې اوکراینې بېړۍ په ناقانونه توګه د روسیې سمندري اوبو ته ننوتلې او په ډېرو خطرناکو مانورونو بوختې وې». په پای کې اوکراین له لوېدیځ څخه د منځګړیتوب غوښتنه وکړه: «جرمني زموږ یو له نږدې متحدینو څخه دی، او موږ تمه لرو چې د ناټو غړې هیوادونه به ازو سمندرګي ته بېړۍ واستوي چې له اوکراین سره مرسته او هلته امنیت ډاډمن کړي». یادې څرګندونې اوکرایني ولسمشر پیټرو پروشینکو د ۲۰۱۸م د نومبر پر ۲۹ مه د جرمني له بلډ ورځپاڼې سره وکړې. نوموړي همدا رنګه وویل: «پوتین هیڅ نه غواړي، خو غواړي چې د ازو سمندرګی په خپله ولکه کې ونیسي. یوازېنی ځواب د ده پر وړاندې د لوېدیځې نړۍ یووالی دی... جرمني باید پوه شي که موږ د پوتین مخه ونه نیسو نو د ده بل اقدام به څه وي... موږ د روسیې تېرې کوونکې تګلاره نه منو؛ لومړی یې د کریمیا ټاپو او وروسته یې ختیځ اوکراین او اوس پوتین غواړي د ازو پر سمندرګي باندې خپله ولکه ټینګه کړي. پوتین غواړي چې پخوانۍ روسي امپراتوري بیا ځلې ژوندۍ کړي، کریمیا، دونبس، ټول زموږ هیواد غواړي».
ده زیاته کړه: «مېرکل په ۲۰۱۵م په مینسک کې د خبرو اترو له لارې زموږ هیواد وژغوره، نو موږ تمه لرو چې د دوی اییتلاف به بیا موږ ژغوري»، خو جرمني په دې تړاو پوځي اقدام رد کړ. د جرمني لومړۍ وزیرې وویل: «یادې لانجې له پوځي لارې نه حلېږي...» (ډي پي اې، ۲۰۱۸ م د نومبر ۲۹ مه) او له پیټرو پروشینکو څخه یې وغوښتل چې له زغم څخه کار واخلي او حالت عادي وساتي... اسناد او شواهد وړاندې کړي او بیا به وګورو چې څه پېښېږي...» او دې ژمنه وکړه چې په ارجنټاین کې به له پوتین سره پر یادې موضوع خبرې اترې وکړي. دې پر روسیې باندې د بندیزونو لګولو خبره رد کړه. «برلین پر روسیې باندې له اوکراین سره د شخړې له امله د اروپایي اتحادیې د بندیزونو لګولو پلوی نه دی، هغه هڅه کوي چې په شخړو کې کموالی راشي». د ۲۰۱۸م د ډیسمبر پر ۶ مه، د جرمني د بهرنیو چارو وزیر له خپل اوکرایني سیال حیکو ماس سره تر کتنې وروسته په ایټالیا کې د اروپایي اتحادیې د بهرنیو چارو وزیرانو په یوه کنفرانس کې یادې څرګندونې وکړې. ده زیاته کړه: «زه فکر کوم چې سملاسي ناسمه ده چې د نویو بندیزونو په تړاو خبرې وکړو، ځکه چې د ترینګلتیا د کمولو په موخه هڅې کېږي...
د نویو بندیزونو په تړاو د جرمني له لوري هیڅ وړاندیز نشته... زه فکر نه کوم چې د اروپایي اتحادیې ترمنځ به د بندیزونو په تړاو ګډ تفاهم شتون ولري» (رویټر، ۲۰۱۸ د ډیسمبر ۷ مه). جرمني او نور اروپایي هیوادونه د حالاتو په خړ پړتیا او اروپا ته د یاد حالت په زیان ښه پوهېږي، ځکه هغه نه غواړي چې پوځي اقدامات او بندیزونه سخت کړي، ځکه چې د روسیې او اروپا دواړو لپاره دا یو دوه اړخیز ګواښ دی.
۵- د امریکا دریځ معلوم دی چې د حالاتو د لا ترینګلتیا او د بندیزونو د لا سختوالي په لټه کې ده. د ۲۰۱۸م د نومبر پر ۳۰مه، ټرمپ له خپل روسي سیال پوتین سره په ارجنټاین کې له شلو صنعتي هیوادونو (**G20**) د سرمشریزې په څنګ کې خپله کتنه د اوکرایني بېړیو نیولو له امله لغوه کړه. ټرمپ له جاپاني لومړي وزیر شینزو ابې سره تر خبرو وروسته د ارجنټاین په پلازمینه بونوس ایرس کې د روسیې له

لوري د اوکرايني ببړيو د نيول کېدو په تړاو خبريالانو ته وويل: «موږ پر يادو پېښو خوښ نه يو او نه له ياد حالت څخه خوښ يو او هيڅوک هم خوښ نه دي» - **(RT Online, November 30, 2018 - Novosti)**.
د ۲۰۱۸م د نومبر پر ۲۷ مه د اوکراين لپاره د امريکا استازي کورت ولکر(**Kurt Volker** ) وويل: «د روسيي مشرتابه غواړي چې د مريپول بندر په ګډون پر يادو بندرونو باندې پرته له دې چې څوک لاسرسی ورته ولري، خپله ولکه ټينګه کړي... د روسيې د مهارولو هڅه خپله يوه لويه اندېښنه پيدا کوي او ده ټينګار وکړ، چې روسيه بايد پر ازو سمندرګي باندې د ۲۰۰۳م د ببړی چلولو تړون ته ژمنه پاتې شي... دی په دې باور دی، چې روسيه به د اوکراين په خاوره کې نوي ځمکني بريدونه ونه کړي، که داسې يو څه وشي دا به ډېر ويښوونکي وي...» **(Ukraine Page, Al-Arabiya 28/11/2018).**
ياد تړون په ګوته کوي چې د ازو سمندرګی او کيرچ تنګی د روسيې او اوکراين ګډې اوبه دي. د امريکا ږغ راډيو د ۲۰۱۸م د ډيسمبر پر ۶ مه وويل: «د اوکراين لپاره د امريکا ځانګړی استازی کورټ ولکر به په راتلونکو دوو اونيو کې له اوکراين څخه ليدنه وکړي او له روسيې به وغواړي چې نيول شوي اوکرايني مانوګان خوشې کړي او ځان به ډاډمن کړي چې روسيه بايد د کيرچ تنګي او ازو سمندرګي په تړاو د ۲۰۰۳م د دوه اړخيز تړون پر بنسټ له اوکراين سره همکاري وکړي». له دې څرګندونو څخه په ډاګه ښکاري، چې امريکا له بيړی کار نه اخلي، د اوکراين لپاره د هغې ځانګړي استازي اعلان وکړ چې دی به دوې اونۍ وروسته له اوکراين څخه ليدنه وکړي! د دې مانا دا ده چې دی د شخړې حلول نه غواړي، بلکې غواړي چې حالت همدغسې ترينګلی وي او ترينګلتيا دوام پيدا کړي او ستونزه حل نشي!
۶- د يادولو وړ ده چې امريکا د اوکراين لپاره وسلې او تجهيزات برابروي او پوځ ته يې روزنه ورکوي. د اوکراين لپاره د امريکا ځانګړي استازي کورټ ولکر جرمني ويبپاڼې ډيټشې ويلې(Deutsche Welle) ته د ۲۰۱۸م د نومبر پر ۲۹ مه وويل: «کيف او واشينګټن په دفاعي برخه کې عادي همکاري لري... او د ده هيواد له اوکراين سره د پوځ په تشکيلاتو او اصلاحاتو کې مرسته کوي، ترڅو د اوکراين دولت پياوړي عصري دفاعي وړتياوې پيدا کړي». ياد امريکايی ديپلومات مني چې د ده هيواد اوکراين په وسلو سمبالوي.
د روسيي ټوډې ويبپاڼه د ۲۰۱۸م د جون له ۹مې نېټې څخه وړاندې د واشينګټن له خولې ليکي: «امريکا د لوېديځ اوکراين لووف ښار هوايي ډګر ته څلور الوتکي لېږلي، ترڅو له اتلانتيک هيوادونو سره د همږغی په اډانه کې د ختيځې اروپا د امنيت د ډاډمنتيا په موخه خپلو بم غورځوونکو الوتکو ته د سون توکي ورسوي. په ورته وخت کې يې له اتلانتيک هيوادونو سره د هوکړې او د هغوی د امنيت ساتنې په پلمه الوتکي او ۱۵۰کسيزه امريکايي ډله هم اوکراين ته استولي. په اروپا او افريقا کې د امريکا د هوايي پوځ د مطبوعاتي دفتر له وينا سره سم: «د دې ګام موخه دا ده، چې امريکا د ختيځې اروپا امنيت غښتلی کړي او د ناټو د غړو هيوادونو تر منځ همږغي لا زياته شي». د يادې روسي ورځپاڼې په وينا: «له هغه راهيسې چې په ۲۰۱۴م کې د اوکراين د دولت پر وړاندې کودتا وشوه، د اوکراين او د امريکا متحده ايالاتونو تر منځ همږغي په پرله پسې ډول ډېره شوې. د امريکا متحده ايالاتونو د اوکراين پوځ ته زغره وال ګاډي، بې پيلوټه الوتکې، رادارونه، مهمات، سنايپر ټوپکان او د ټانک ضد سيسټمونه ورکړي، خو پر هغوی يې دا شرط لګولی، چې دا مهمات به په دونباس سيمه کې نه کاروي». دا ښکاره خبره ده، چې د امريکا متحده ايالات حالات ترينګلي کوي، د اوکراين پوځ په دې موخه په وسلو سمبالوي، ترڅو اوکراين د روسيي غوسه راوپاروي. امريکا په قصدي ډول حالات ناوړې خوا ته بيايي ترڅو د کريميا او اوکراين له موضوع ګانو څخه په خپله ګټه کار واخلي. موږ هغه خبره چې د ۲۰۱۴م د مارچ پر ۲۲مه کې مو د يوې پوښتنې په ځواب کې تر هغې وروسته چې روسيې د ۲۰۱۴م د مارچ پر ۱۸ مه کريميا په خپله خاوره ګډه کړه؛ بيا تکراروو: «اوکراين به د ټايم بم په څېر پاتې شي او هغه وخت به وچاودېږي، چې نړيوال او سيمه‌ييز

حالات د روسيې يا غرب په ګټه بدلون وکړي. تر هغه وروسته به هر اړخ هڅه کوي، چې نړيوالو حالاتو ته په کتو سره به ټول اوکراين خپل کړي. البته دا خبره مو بايد په ياد وي چې اوکراين د روسيې لپاره خورا مهم دی او د اروپا دروازه ده».

۷: امريکا په پټه په دې هڅه کې ده چې د اوکراين په مرسته روسيه د يوه تونډ غبرګون ښودلو ته اړه کړي. امريکا متحده ايالات اوکراين هڅوي چې پر کريميا بياځلي خپله ولکه ټينګه کړي، په ځانګړې توګه د اوکراين پر ختيځه برخه چې دا مهال د روسيې تر اغېز لاندې ده، همدا ډول په ازو سمندرګي او په کيرچ تنګي کې خپل حقوق وساتي. البته د کيرچ تنګی د روسيې او اوکراين دواړو هيوادونو لپاره ډېر اهميت لري. دا له شمالي ازو سمندرګي څخه د جنوب تور سمندرګي ته د تېرېدو يوازېنۍ لار ده. امريکا يې په وسلو سمبالوي او دا کار د منسک له تړون څخه سرغړونه ده. امريکا په دې هڅه کې ده چې د اروپايي اتحاديې او روسيې تر منځ شوی تړون پيکه او کم رنګه کړي او حالات کړکېچن کړي. په ورته وخت کې اروپا په دې هڅه کې ده، چې د حالاتو ترينګلتيا له منځه يوسي، ځکه دا په اصل کې د دوی په زيان ده. موږ وينو چې اروپا په دې لټه کې ده، چې له روسيې سره يوه تفاهم ته ورسېږي او په ورته وخت کې پر دې کار کوي، چې خپل ځانونه په څه ډول له امريکايي اغېز څخه لرې وساتي. اروپا اوس هغه هڅې لا ګړندی کړې دي، چې غواړي يو واحد پوځ جوړ کړي، ترڅو له روسيې او امريکا څخه ځان پرې وژغوري. د اروپا دې هڅو امريکا په غوسه کړې ده، چې دا غوسه يې د ۹/۱۱/۲۰۱۸نېټه، د ماکرون او ټرمپ تر منځ په ليدنه کې، چې په پاريس کې ترسره شوه، ښکاره شوه. همدا ډول د امريکا متحده ايالاتونو د اروپا پر وړاندې سوداګريزه جګړه اعلان کړې، امريکايي عوامو د اروپايي اتحاديې د لغوه کېدو غوښتنه وکړه، همدا ډول سږ کال او تېر کال د جي اوه ( **G-7** ) هيوادونو په غونډه کې د امريکا نارضايتي او خپګان ښکاره شو، همدا ډول اروپايي اتحاديې هڅه وکړه چې پر اوکراين سربېره پر ځينو نورو مسايلو د امريکا متحده ايالاتونو ته چيلنج ورکړي. دې ټولو کارونو د امريکا متحده ايالات دې ته اړ کړل چې د روسيې او اوکراين تر منځ حالات ترينګلي کړي او د اروپا په سرحدونو کې شرايط ناوړه لور ته رهبري کړي.

۸: روسيه اوس په سختو حالاتو کې راګېر ده. روسيه د اوکراين په موضوع بوخته ده، چې دا د ځان لپاره ډېره مهمه موضوع ګڼي. که د اوکراين په موضوع کې ناکامه او پاتې راشي، د لوېديځ تر اغېز لاندې به راشي او د دوی مرکز، مسکو به يې تر ګوابښونو لاندې راشي. دا ګواښ هغه وخت لا زيات شو، چې کله يې ختيځه اروپا له لاسه ورکړه. روسيه د لوېديځ له لوري په تېره بيا د امريکا له لوري څو ځلي تېر ايستل شوې، د برلين دېوال يې ونړاوه، ختيځ او لوېديځ المان يې سره يو ځای کړل، د پولنډ خپلواکي يې ومنله او تر خپل اغېز لاندې يې راوست، د ختيځې اروپا د ګڼو هيوادونو خپلواکي يې په رسميت وپېژندله او اوس يې په اوکراين کې تېر ايستله! د ۲۰۱۴م تر هوکړې وروسته چې د روسيې لاسپوڅي ينکوويچ په واک کې پاتې شو، خو لوېديځ د اوکراين عام ولس د ده پر وړاندې راوپاراوه او بيا د سوريې لومه او چل و! امريکا متحده ايالاتونو روسيه تېر ايستله او په يوازې ځان يې د سوريې جګړې ته ور ټېل وهله، روسيه بيا په دې تمه وه، چې امريکا به پر کريميا او ختيځ اوکراين د روسيې واکمنې په رسميت وپېژني، خو امريکا داسې ونه کړه! که روسيه کم عقله نه وای، نو په سوريه کې به يې مداخله نه کولی، امريکا به يې پرې ايښې وای چې د سوريې په جګړه کې بوخته شي او د افغانستان په څېر به په سوريه کې هم له ستونزو سره لاس او ګرېوان وای.

۹- پایله:

الف: له نښو نښانو څخه داسې ښکاري، چې په ازو سمندرګي کې د اوکراین د کړنو او هڅو تر شا د امریکا لاس شته او د امریکا د متحده ایالاتونو هڅې دا دي چې حالات ناوړه لور ته رهبري کړي او تر څنګ یې د دریو اړخونو، لکه روسیې، اروپا او اوکراین تر منځ اړیکې نازکې کړي، ترڅو له دې لارې خپلې ګټې خوندي کړي. امریکا د حالاتو د سموالي پر ځای د حالاتو ترینګلتیا غواړي او هڅه کوي چې ستونزې پر خپل ځای پاتې وي.

ب: تر هغو چې نړۍ د دې سیکولرو پانګوالو دولتونو له لوري اداره کېږي، همدا شومې دسیسې، له وحشته ډک جنایتونه، بې عدالتۍ او بې نظمۍ به په درز کې روانې وي... ښکېلاکي مفکوره او د نورو هیوادونو اشغالول، د نوموړو دولتونو په ختېه اخښل شوي دي.

ج: د اسلام ستره مفکوره د خلاصون یوازینۍ لاره ده، چې کولی شي نړۍ له دې شریرو دولتونو څخه وژغوري او د انسان په لاس جوړ شوي نظامونه له منځه یوسي. دا ځکه چې اسلام د کایناتو د خالق دین دی، هغه خالق پوهېږي چې د بشر او کایناتو لپاره څه په خیر دي.

**﴿أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ﴾**

[الملک:۱۴]

*ژباړه: ایا هغه د په هغه څه ونه پوهېږي چې پیدا کړي یې دي؟ په داسې حال کې چې هغه د هرڅه لیدونکی او په هر څه باخبره دی.*

**﴿فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ إِلَّا الضَّلَالُ﴾**

[یونس:۳۲]

*ژباړه: نو له حق وروسته له ګمراهي پرته نور څه پاتې شول؟*

**﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِمَنْ كَانَ لَهُ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ﴾**

[ق:۳۷]

*ژباړه: له شک پرته په دغه تاریخ کې د عبرت درس د هر هغه چا لپاره دی چې زړه لري یا په پوره پاملرنې سره خبره اوري.*

۱۴۴۰ هق، د ربیع الاخر ۷ مه

۲۰۱۸م، د دیسمبر ۱۴ مه